TRANSLATION DEPARTMENT
(DAWAT-E-ISLAMI)

هفته واره رساله

(د امیر اهلِ سُنّت د کتاب " د خبرو کولو آداب " نه نهم قسط)

وړومبے سوچ کوه

اوبیا خبره کوه

د خبرو نه مخکښې د سوچ کولو طریقه

د خبرې کولو دِیني او دُنیائي فائده

د چپ پاتې کیدو طریقه

د پښیمانتیا لویه وجه

شیخ طریقت امیرِ اهلِ سنت بانیِ دعوتِ اسلامی حضرت علامه مولانا ابو بلال
محمد الیاس عطار قادري رضوي دامت برکاتہم العالیہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وړومبے يې تله نو بيا خبره کوه [1]

دُعائے عطّار: يا الله پاکه! څوک چې دا رساله " وړومبے يې تله نو بيا خبره کوه " ولولي يا واوري هغه ته د خبرو نه مخکښې د سوچ کولو توفيق ور عطا کړې، د بے فائدې او د ګناهونو نه د ډکو خبرو نۀ يې بچ کړې او هغه سره د مور او پلاره او خاندانه بے حسابه جَنَّت الفردوس ته داخِل کړې- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د دُرُود شريف فضيلت

حضرت اُبَي بِن کَعب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوکړو چې زۀ به (ټول وردونه، وظيفې پرېږدم او) خپل ټول وخت به پۀ دُرُود وئيلو کښې تېروم- نو د مدينې سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دا به ستا د فِکرونو لرې کولو د پاره کافي شي او ستا ګناهونه به معاف کړے شي-

(ترمذی، 207/4، حدیث: 2465 ملتقطاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... دا مضمون د امير اهلِ سُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د کتاب " د خبرو کولو آداب " صفحه 116 نه 129 پورې نه اخستلے شوے دے-

بې وقوفه بې سوچه خبرې کوي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! عقلمند وړومبے خبره تلي بيا يـې پۀ خُله وائي او بې وقوفه چې څۀ يـې پۀ ژبه راځي وائي يـې، که د هغې پۀ وجه ذليله کېږي ولې نۀ- حضرت حَسن بَصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: پۀ خلقو کښې مشهوره وه چې د عقلمند ژبه د هغه د زړۀ شاته وي هغه د خبرې کولو نه مخکښې خپل زړۀ ته رجوع کوي يعنې غور کوي چې ووايم که نۀ؟ که چرې خبره د فائدې وي نو کوي يـې کنې چپ پاتې شي - او د بې وقوفه ژبه د هغه د زړۀ مخې ته وي چې دلته د زړۀ سره د رابطې يعنې غور کولو هډو حاجت نۀ راځي بس چې څۀ يـې پۀ خُله راځي وائي يـې-

(تنبيه الغافِلين، ص: 115 سے خلاصه)

ژبه سمبال کړه هر څۀ به سمبال شي

څوک چې پۀ ژبه سمبالولو کښې کامياب شي، د هغه ټول کارونه سمبال شي- حضرت يونس بن عبيد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي چې د چا ژبه ټيک وي د هغه ټول کارونه ټيک وي-" (احياءُ العلوم (اردو) ج: 3، ص: 339، احياءُ العلوم، ج: 3، ص: 137)

وړومبے يې تله بيا خبره کوه

لکه څنګه چې د اخستو پۀ وخت د بے پروايئ پۀ وجه دوکه شوے پښېمانه کېږي، دغه شان ژبه بے ضرورته چلوونکے هم پښېمانه کېږي، يو بزرګ رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: "خپله خبره د خپل مال پۀ شان محفوظ ساتئ او چې کله (دغه مال يعنې خبره) خرچ کول غواړئ نو پۀ ډېر سوچ يـې خرچ کوئ-"

د وئيلو نه مخکښې د تَللو طريقه

اے د خورِ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ياد ساتئ چې د الله پاک خورِ اخري نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم پۀ خپله خُله مبارکه باندې څۀ فالتو لفظ نۀ وو ادا کړے او نۀ يې چرې پۀ کړس کړس خندا کړې وه- کاش چې د خاموشئ سنت هم عام شي او زمونږ د قهقهې يعنې پۀ زوره زوره د خندا عادت هم لاړ شي- اے کاش چې مونږ " د وئيلو " نه مخکښې د " تللو " والا جوړ شو- د تللو طريقه دا کېدے شي چې د دې نه مخکښې چې الفاظ پۀ ژبه ادا شي د خپل زړۀ نه پوښتنه اوکړے شي چې د دې وئيلو مقصد څۀ دے؟ آيا دا زۀ چاته د نېکئ دعوت ورکووم؟ آيا دا کومه خبره چې کول غواړم دې کښې زما يا د بل چا څۀ فائده شته؟ آيا پۀ دې خبره کولو به تاته ثواب مېلاؤېږي؟ زما خبره چرته د داسې مبالغې (يعنې زياتوالي) نه خو ډکه نۀ ده کومه چې ما پۀ دروغو کښې اخته کړي- د دروغو مبالغې مثال ورکولو سره حضرت علامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: " که چرې يو ځل راغلې او وه دې وئيل چې زر ځله راغلم نو دروغ دي-" (بهارِ شريعت، ج:3، ص:519) دا هم سوچ اوکړئ چې چرته زۀ خو د چا خوشامد يا د دروغو تعريف خو نۀ کووم؟ د چا غيبت خو نۀ کېږي؟ زما پۀ دې خبره خو به د چا زړۀ خفه کېږي نۀ؟ د وئيلو سره د شرمېدو پۀ وجه د رجوع کولو يا بخښنې غوښتو نوبت خو به نۀ راځي؟ د توکلو وروستو د څټلو يعنې پۀ جوش کښې د وئيلے شوې خبرې بېرته اخستو ضرورت خو به نۀ پېښېږي؟ چرته خپل يا د بل راز خو به نۀ ښکاره کووم؟ د وئيلو نه مخکښې پۀ تللو کښې که چرې دا خبره هم مخې

ته راغله چې په دې خبره کښې نۀ فائده شته او نۀ نقصان او نۀ ثواب دے نۀ ګناه ده، بيا هم د دې خبرې په وئيلو کښې يو قسمه نقصان دے ځکه چې ژبې له د دې قسمه فضول او بې فائدې خبرې د پاره د تکليف ورکولو په ځائے که چرې د ثواب په نيت سره لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) وئيلے شي يا درود شريف ولوستے شي نو يقيناً په هغې کښې صرف فائده ده او دا د خپل قيمتي وخت جَنَّت ته د بوتللو بهتره استعمال دے، د داسې عظيم الشانه فائدې ضائع کېدل لازماً نقصان دے۔

ذِکْر و دُرُود ہو گھڑی وِرد زَباں رہے　　میری فضول گوئی کی عادت نکال دو

(وسائلِ بخشش، ص: 305)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د چپ اوسيدو طريقه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! فضول خبرې که ګناه نۀ ده خو په دې کښې محروميانې او نقصانونه هم موجود دي ځکه د دې نه بچ کېدل مناسب دي۔ کاش! کاش! اے کاش! که د خاموشئ عادت خپلولو سعادت مېلاؤ شي۔ لاس په لاس د خاموشئ نعمت حاصلېدل ضروري نۀ دي، د دې د پاره به ډېر کوشش کول وي۔ ځوک چې د چپ اوسيدو عادت جوړول غواړي هغه ته به دا خبره سنجيده اخستل وي او مايوسي به د خپلې ډکشنرئ نه اوباسي او ښۀ پوره کوشش به کوي۔ حضرت مُوَرِّق عِجلِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي چې يوه داسې معامله د کومې چې ما د 20 کالو پورې د

حاصلولو کوشش کولو خو حاصله مې نۀ کړه خو بيا مې هم د هغې طلب پرې نۀ ښودو- پوښتنه اوکړے شوه: هغه اهم څيز څۀ دے؟ وه يې فرمائيل: خاموشي- (الزھد للامام احمد، ص:310، قول نمبر:1762) د " خاموشیِ " عادت جوړولو خواهش لرونکو له پکار دي چې د ژبې چلولو پۀ ځائے که چرې ممکن وي نو هره ورځ د ضرورت څۀ لږې ډېرې خبرې د ليکلو سره يا پۀ اشاره هم کوي، اِنْ شَآءَاللّٰه اَلْکَرِيم! داسې به د خاموشیِ عادت جوړېدل شروع شي-

د فضول اشارې هم حساب شته

ياد ساتئ چې فضول خبرو، فضول نظر يعنې بے فائدې اخوا ديخوا کتلو، فضول نظارو کتلو، که نارمل وي يا ړوند د ټولو فضول اشارو کولو، فضول اوازونو کولو وغېره وغېره د قيامت پۀ ورځ حساب شته-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د " دعوتِ اسلامي " د طرف نه د نېک جوړولو رسالې:" نېک اعمال " کښې 53 نمبر " نېک عمل " دے: آيا نن تاسو د ژبې د فضول استعمال (يعنې هغه خبرو پۀ کومو کښې چې د دين او دنيا فائده نۀ وي) نه د بچ کېدو عادت جوړولو د پاره څۀ نا څۀ پۀ اشارو سره خبرې کړې دي؟ (څومره به ښه وي چې هره ورځ کم نۀ کم څلور ځله د ليکلو سره او کم نۀ کم درې ځله پۀ اشارو سره به مو خبرې کړې وي) د خاموشیِ د عادت جوړولو پۀ وخت داسې هم کېدے شي چې د فضول خبرو کولو نه د بچ کېدو پۀ کوشش کښې خو ورځې کاميابي مېلاؤ شي خو بيا د زياتو خبرو عادت د مخکښې پۀ شان شي، که چرې داسې وشي نو هم همت مۀ بائيلئ،

بيا بيا کوشش کوئ، که جذبه مو ربښتونې وي نو اِنْ شَآءَاللّٰه اَلْکَرِيم! کله خو به درته کاميابي مېلاؤ شي- لکه څنګه چې د عربي مقوله (يعنې متل) دے: اَلسَّعْیُ مِنِّی وَالْاِتْمَامُ مِنَ اللّٰه يعنې کوشش به زما د طرف نه وي او کار به الله پاک پوره کوي- د عربي يو بل متل دے: مَنْ جَدَّ وَجَدَ يعنې چا چې کوشش اوکړو هغه بياموندو- د خاموشۍ عادت جوړولو مشق کولو پۀ وخت پۀ خپل مخ خندا مناسبه ده چې چرته چا ته داسې ښکاره نۀ شي چې دے خفه دے ځکه يې پۀ مخ پرېشاني ده- د خاموشۍ کوشش کولو پۀ ورځو کښې غصه زياتېدے شي ځکه که چرې څوک ستاسو پۀ اشاره پوهه نۀ شي نو چرې هم غصه مۀ کوئ چې چرته بر ناحقه د زړۀ ازارولو ګناه اونکړئ- پۀ اشارو خبرې صرف د هغه چا سره مناسبې وي د چا سره چې ستاسو سوچ يو شان وي، ګڼې نا اشنا انسان کېدے شي چې د اشارو وغېره پۀ خبرو پوهه نۀ شي او ستاسو نه خفه شي، ځکه د هغه سره د ضرورت مطابق پۀ ژبه خبرې کوئ- پۀ بعضې حالتونو کښې پۀ ژبه وئيل واجب کېږي هم مثلاً د ملاقات کوونکي د سلام جواب پۀ ژبه ورکول وغېره- دا هم ياد ساتئ چې سلام پۀ اشاره نۀ پۀ ژبه کول دي- د دې نه علاوه نورې هم داسې ډېرې موقعې دي پۀ کومو کښې چې به پۀ ژبه وئيل وي- داسې د مور پلار او کور والۀ او نورو سره که چرې غم وي نو د ضرورت پۀ طور (د هغوئ سره هم) پۀ ژبه خبرې کوئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د وړومبے تللو او بيا د خبرې کولو فائده

که چرې انسان د وئيلو نه مخکښې د " تللو " يعنې د غور کولو عادت جوړ کړي نو کيدے شي چې هغه ته به خپلې ډېرې فضول خبرې پخپله محسوسېدل شروع شي! که صرف " فضول خبرې " نو هله، اګر چې ګناه نۀ ده خو قسما قسم نقصانونه پۀ دې کښې موجود دي مثلاً پۀ دې خبرو کښې د ژبې چلولو تکليف وي او قيمتي وخت تباه کېږي، که چرې دومره وخت ذِکرُ الله، د درود شريف وِرد يا ديني کتابونه ولوستے شي، يا يو سنّت بيان کړے شي نو د ثوابونو ډېرے به جوړ شي او د فضول خبرو يو ډېر لوئي نقصان دا دے چې د قيامت پۀ ورځ به د دې حساب ورکول وي-

د دهشت ګردی[ترهګری] فضول تذکرې

مَعَاذَالله! چرته د دهشت ګردیِ پيښې رامخې ته شوې نو خلقو ته بس د فضول بلکې بعضې حالاتو کښې د ګناهونو نه د ډک بحث د پاره موقع پۀ لاس ورغلې! پۀ هر ځائے کښې د هغې خبرې، بے سر او بنپو اندازې، بے د سترې کېدو تبصرې، د اندازې نه پۀ پارتيِ يا ليډر وغېره تهمت لګول وغېره- بعضې وخت دا خبرې پۀ خلقو کښې د ويرې ترخې خورېدو وجه، د افواه ګانو خورېدو وجه او د هنګامو کېدو " وجه " هم جوړېدے شي، د دهماکواو د دهشت ګردیِ د پيښو اورېدل او پۀ بل چا اورول نفس له ډېره مزه ورکوي، بعضې وخت پۀ شوندو د دعا الفاظ وي خو د زړۀ پۀ تَل کښې سنسي خيزو خبرونو اورېدو او اورولو پۀ ذريعه (يعنې د مزو) اخستو او د خوندونو جذبه پټه وي، کاش! چې د نفس د دې شرارت پېژندلو سره مونږ

د دهشت ګردۍ او د دهماکو پۀ خبرو کښې د مزو نه ځان بچ وساتو- آؤ چې د مظلومانه شهادت موندونکو د پاره د بخښنې دعاګانې، د زخميانو او متاثره شوؤ مسلمانانو د خوا خوښۍ، خدمتونو او امن او سلامتيا د دعاګانو نه ډډه اونکړے شي- بس چې کله هم د داسې خبرو اورېدو حالت پيدا کېږي پۀ خپل زړۀ غور کول پکار دي چې نيت څۀ دے؟ که چرېښه نيت ومومئ نو ډېر ښه دے خو اکثر د داسې قسمه خبرو نه خوندونه اغستلے شي -

د قړتن ګس زړۀ سختېږي

د حضرت عيسٰى عَلَيْهِ السَّلَام نه منقول دي چې د الله پاک د ذِکر نه علاوه يوه خبره هم ډېره مۀ کوئ ځکه ستاسو زړونه به سخت شي او د سخت زړۀ والا د الله پاک نه لرې وي خو تاسو ته د دې عِلم نشته-

(تنبيه الغافِلين، ص: 118)

حضرت اِمام مالک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به قړتن ګس پوهه کولو

افسوس نن سبا چې څوک " بق بق " کوي بعضې خلق د هغوئ پۀ ښه کښې ښه مېلاوهي او پۀ خندا خندا سره هغه له حوصله ورکوي- ياد ساتئ چې زمونږ د دِين بزرګان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم به پۀ زړۀ او ژبه دواړو کښې رښتوني وو- د کرورونو مالِکيانو عظيم پيشوا حضرت امام مالِک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې به کله يو ګس پۀ زياتو خبرو کولو ليدلو نو هغه ته به يې فرمائيل: " خپلې څۀ خبرې د ځان سره هم ساته (يعني خبرې کمې کوه)-"

(تنبيهُ المغترين، ص190)

بد ماش شريف شو

اے د الله پاک رضا غوښتونکو! څوک چې واقعي سمبدل غواړي هغوئ له د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته راتګ پکار دے- يو ډېر ښکلے " مدني سپرلے " وړاندې کولے شي، واورئ او خوشحاله شئ: د دعوتِ اسلامي سره د ټرون لرلو نه مخکښې د کراچۍ د يو ځوان ناسته پاسته د جرمونو کوونکو ګسانو سره وه، غلطې ناستې رنګ راوړو او دا د " بد ماشانو پۀ ډله " کښې شامل شو- د خلقو وهل ډبول، کنځلې کول او د قسته جنګ جګړې پۀ سر اخستل د هغه معمول جوړ شو، دۀ به د ځان سره وسله هم ساتله- د غلطو کارونو پۀ وجه به تر ې خلق لر ې لر ې تښتېدل- کور والا، خپل خپلوان او د علاقې والا ټول د دۀ نه بېزاره وو- هغه ته د غفلت د خوب نه رابېدارېدل څۀ داسې نصيب شو چې د دوئ پۀ علاقه کښې د عاشقان رسول د ديني تنظيم، " دعوتِ اسلامي " سره تعلق لرونکے يو بزرګ اسلامي ورور اوسېدو، د عالمي مدني مرکز فېضان مدينه سره د هغه د مينې اندازه د دې خبرې نه ولګوئ چې هغه به د لياقت آباد (عالمي مدني مرکز فېضانِ مدينه کراچۍ سره نزدې د يوې علاقې) نه پېدل د سحر نـمونځ د پاره فېضانِ مدينه ته راتللو- چې کله هُغه بزرګ اسلامي ورور پۀ هغه انفرادي کوشش اوکړو او د ګناهونو نه د لر ې کېدو او د نـمونځ کولو تلقين يـې ورته اوکړو نو پۀ دې سره پۀ هغه داسې اثر وشو چې هغه د سحر نـمونځ شروع کړو- يوه ورځ جومات کښې د هغه د دعوتِ اسلامي د يو ذمه دار اسلامي ورور سره ملاقات وشو د چا د انفرادي کوشش پۀ نتېجه کښې چې دۀ د دعوتِ اسلامي د هفته وار ې د سنتو ډکې اجتماع ته تشريف راوړو-

دلته د سنتو سپرلي وو، د اجتماع پۀ وخت کښدونکي بيان هغه د وړې نه سم راغونډ کړو- پۀ اجتماع کښې چې کله ټولو پۀ شريکه ذِکرُ الله اوکړو نو دۀ ته د زړۀ سکون مېلاؤ شو- د اجتماع پۀ برکت يې پۀ زړۀ کښې داسې جذبه پيدا شوه چې دا د دعوتِ اسلامي شو- د بد ماشی او نورو ګناهونو نه يې توبه کړه- درسِ فيضان سنّت ورکول يې هم شروع کړو- د هغه پۀ ژوند کښې راتلونکي بدلون خلق حيران کړل- بعضې خلقو به ورپسې خبرې کولې او د يو څو ورځو د شوق پيغور ورکولو سره به يې د هغه زړۀ ماتولو خو دۀ به پۀ خاموشی سره اورېدلې او پۀ زړۀ کښې به يې لوظ کولو چې که هر څۀ وي زۀ به ديني ماحول نۀ پرېږدم- د ګناهونو نه يو اړخ ته د کښدو او د نېک اعمالو پۀ برکت سره د هغه پۀ رزق کښې برکت پيدا شو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغه ته د علاقائي مُشاورت د نګران پۀ حيث د ديني کارونو کولو سعادت هم مېلاؤ شو-

سنور جاءے گی آخرت اِنْ شَآءَاللّٰہ تم اپناءے رکھو سدا مدنی ماحول
بہت سخت پچھتاؤ گے یاد رکھو نہ عطار تم چھوڑنا مدنی ماحول

(وسائلِ بخشش ص: 646)

د " بسم الله " د 7 حرفونو پۀ نسبت سره د ګناهونو 7 علاجونه

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتلو پۀ برکت د توبه کولو سره بے شمېره بے نمانځه نمونځ ګزاره او د ګناهونو عادت لرونکي د شريعت

او سُنَّت پابند شو- هر يو له دا د برکت نه ډک ماحول خامخا خپلول پکار دي- د اللهُ ربُّ العِزّت پۀ رحمت سره ډېر ذِکر او اَذکار هم داسې دي کوم چې د ګناهونو نه د بچ کېدو سبب جوړېدے شي- دلته 7 اوراد وړاندې کولے شي:

﴿1﴾ يَاعَفُوُّ: ډېر وئيلو سره پۀ زړۀ کښې د ګناهونو نه نفرت پيدا کېږي-

﴿2﴾ يَامُحصِي: د اودۀ کېدو پۀ وخت پۀ سينه د لاس ايښودو سره 7 ځله لولئ اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِيم! پۀ عبادت کښې به مو زړۀ لګي-

﴿3﴾ يَاباعِثُ: پۀ عبادت کښې د زړۀ لګولو د پاره پۀ سينه لاس کېږدئ او د اودۀ کېدو پۀ وخت يې 100 ځله ووايئ، اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِيم! د ګناهونو نه به مو نفرت پيدا شي-

﴿4﴾ يَاقَهَّارُ: پۀ ګرځېدو کښې د وِرد کولو سره د دنيا محبت لرې کېږي او د الله پاک او رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مَحَبَّت پيدا کېږي-

﴿5﴾ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم: د شېطان نه د بچ کېدو د پاره هره ورځ 10 ځله لولئ-

﴿6﴾ يَامُحيِي يَامُمِيتُ: بے حسابه جَنَّت ته د داخلېدو د پاره هره ورځ د نمونځ نه پس پۀ سينه لاس کېږدئ او 7 ځله د لوستو سره يې پۀ سينه دم کړئ- اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِيم! بد عادتونه به هم ختم شي او پۀ عبادت کښې به هم زړۀ ولګي-

﴿7﴾ يَابَاطِنُ: د هر نـمونځ نه پس 100 ځله لولئ اِنْشَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! د وسوسو او ګنده خيالونو نه به خلاصے حاصل شي-

نوټ: د هر عمل پۀ اَوَّل او اخر کښې يو ځل دُرُود شريف خامخا لولئ- د وِرد شروع کولو نه مخکښې يو سُنّي عالِم يا قاري صاحب ته دا واوروئ او د صحيح مَخرَج سره يـې لولئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د کومې نېکۍ کول چې ګران وي د هغې ثواب هم زيات وي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د فضول خبرو عادت پرېښودل واقعي چې ډېر ګران کار دے، خو دا خبره هم ډېره د حوصلې ده چې د چا د پاره د فضول خبرو عادت پرېښودل څومره ګران وي دومره د دې ثواب هم زيات مېلاؤ ښېري- لکه څنګه چې پۀ سخته يخنۍ کښې د اودس کولو پۀ باره کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " چا چې پۀ سخته يخنۍ کښې اودس اوکړو د هغه د پاره دوه چنده اَجر دے-" (جامع صغير، ص: 512، حديث: 8398) داسې پۀ تکليف سره د قرآنِ پاک لوستلو پۀ باره کښې رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: " څوک چې پۀ انښتو انښتو قرآنِ پاک لولي او دا پۀ هغه ډېر ګران وي يعنې د هغه ژبه پۀ اسانۍ سره نۀ چلېږي، د هغه د پاره دوه اَجرونه دي-" (مسلم، ص: 312، حديث: 1862) پۀ خپل خواهش بل له د فوقيت ورکولو والا پۀ باره کښې خوږ آقا، مکي مدني، مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے:

" څوک چې د څۀ څيز خواهش لري، بيا هغه خپل خواهش پريږدي او بل له ترجيح ورکړي، نو الله پاک هغه بخښي-" (اتحاف السادة ج: ص: 779) ځکه اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! حالانکې زړۀ خو زمونږ هم دا غواړي چې مونږ ډېرې خبرې کوو، خو که چرې مونږ د کمو خبرو عادت جوړولو کوشش اوکړو نو خامخا به ثواب وګټو- (اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!)

حضرت ابراهيم بن اَدهم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: " کوم نېک عمل چې پۀ دنيا کښې څومره ګران وي، د قيامت پۀ ورځ به پۀ مېزانِ عمل (يعنې د اعمالو تول کولو) کښې هٰغه همره وزن دار وي-" (تَذکِرۃ الاولیا جزء: 1، ص: 95 ملخصاً)

د فضول خبرو نه بچ اوسئ

د حضرت رَکب مِصري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، حُضور پر نُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: زيرے دے د هٰغه چا د پاره څوک چې د عيب نۀ لرلو باوجود تواضُع [عاجزي] اختيار کړي، او د مسکينۍ نه بغير ځان ذليله ګڼي، او خپل جمع کړے شوے مال پۀ نېکو کارونو کښې خرچ کوي، او پۀ بې اَسرې او مسکينانو خلقو باندې رحم کوي او د عِلم او حِکمت والا خلقو سره تعلق ساتي، او نېک بختي ده د هغوئ د پاره د چا ګټه چې پاکه ده، باطِن يې ښه وي، ظاهر يې بزرګۍ والا وي او څوک چې خلق د خپل شر نه محفوظ ساتي، او سعادت مندي ده د هغوئ د پاره څوک چې پۀ خپل عِلم عمل کوي، د خپل ضرورت نه زيات مال د الله پاک پۀ لار کښې خرچ کوي او د فضول خبرو نه ځان ساتي-

(معجم کبیر، ج: 5، ص: 71، حدیث: 4616)

پۀ جَنَّت کښې به افسوس نۀ وي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ له د خپل وخت قدر پېژندل ضروري دي، فالتو وخت تېرول د څومره لوئي نقصان خبره ده پۀ دې باندې د دې حديث مبارک نه ځان پوهه کړئ د مدينے د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: " جَنَّتيان به د هٰغه ساعت نه سيوا د بل هيڅ يو څيز افسوس نۀ کوي پۀ کوم کښې چې هغوئي د الله پاک ذِکر نۀ وي کړے۔"

(معجم کبیر، ج:20، ص:93، حدیث:182)

شَرحِ حديث: حضرت علّامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حديث شريف د دې حصې: " جَنَّت والا " پۀ وضاحت کښې ليکلي دي: د جَنَّتيانو دا افسوس به د قيامت پۀ ورځ جَنَّت کښې د داخلېدو نه مخکښې وي ځکه چې جَنَّت کښې به پښېمانتيا او افسوس نۀ وي۔

(حرز ثمین شرح حصن حصین، ص:209)

عُمرِ را ضائع مَکُن دَر گفتگو یادِ اُو کُن یا دِ اُو کُن یادِ اُو

يعني خپل عمر پۀ فضول خبرو کښې مۀ ضائع کوئ، يادِ اُو يعني هٰغه (الله) يادوئ۔

د قَلَم قَط

د حضرت سُليم رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (وفات: 447 هجري) د قلم چې به کله سوکه ختمه شوه نو د قلم د سوکې جوړولو د پاره به يې د قلم سوکې ويستو پۀ وخت (اګر چې پۀ ښه نيت سره د ديني ليک د پاره دا هم د ثواب کار دے خو د

يو کار دوه فائدو پۀ مِصداق به يې) د الله ذکر شروع کړو چې دا وخت صرف د قلم پۀ سوکه ويستو کښې تېر نۀ شي! (ابنِ عَساکِر ج:72، ص:260)

پۀ جَنَّت کښې ونه ناله کړئ

يقيناً وخت ډېر قيمتي دے د دې اندازه د دې خبرې نه ولګوئ چې که چرې تاسو وغواړئ نو پۀ دې دنيا کښې د اوسيدو باوجود صرف پۀ يو سيکنډ کښې پۀ جَنَّت کښې يوه ونه نالولے شئ او پۀ جَنَّت کښې د ونې نالولو طريقه هم ډېره اسانه ده د يو حديث شريف مطابق پۀ دې ځلورو کلماتو کښې چې کومه هم ووايئ نو پۀ جَنَّت کښې به يوه ونه نالولے شي- هٰغه ځلور کلمات دا دي: ﴿1﴾ سُبْحٰنَ الله ﴿2﴾ اَلْحَمْدُ لِلّٰه ﴿3﴾ لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله ﴿4﴾ اَللّٰهُ اَكْبَر- (ابن ماجه، 4، ص:252، حديث: 3807)

د دُرُود شريف فضيلت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! تاسو وکتل چې پۀ جَنَّت کښې ونه نالول څومره اسان کار دے! که چرې پۀ بيان شوؤ ځلورو کلماتو (يعني الفاظو) کښې د هغې نه يوه کلمه (يعني لفظ) ووايئ نو يوه او که چرې ځلور ووايئ نو پۀ جَنَّت کښې به ځلور ونې نالې کړے شي- تاسو غور اوکړئ چې وخت څومره قيمتي دے چې ژبې له پۀ لږ شان حرکت ورکولو پۀ جَنَّت کښې يوه ونه نالېږي نو اے کاش! چې د فالتو خبرو پۀ ځائے د سُبْحٰنَ الله سُبْحٰنَ الله وئيلو سره مونږ پۀ جَنَّت کښې ډېرې ونې نالې کړو يا دا هم کېدے شي چې که ولاړ يئ، روان يئ، ناست يئ يا څۀ کار روزګار کوئ يا ملاست يئ نو د ښپو راغونډولو سره مونږ درود شريف لولو چې

دا هم د ډېر ثواب کار دے- رسولِ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: " څوک چې په ما يو ځل درود شريف ولولي الله پاک په هغه لس رحمتونه نازلوي، لس ګناهونه يې ورانوي، لس درجې ورله اوچتوي-"

(نَسائي، ص: 222، حديث: 1294)

بيٹھتے اُٹھتے، جاگتے سوتے ہو الٰہی! مرا شِعار دُرُود

(ذوقِ نعت، ص74)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د خبرو کولو دينې يا دُنياوي فائده

اے د خورِ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! څومره به ښه وي چې د وئيلو نه مخکښې د تللو داسې عادت جوړ شي چې دا کومه خبره چې زۀ کووم په دې کښې د دين يا د دنيا څۀ فائده هم شته که نه؟ که چرې خبره فضول ولګي خو د وئيلو په ځائے کاش چې " الله الله " وئيل يا دُرُود شريف لوستل نصيب شي چې دغه شان ډېر ثواب په لاس راشي- يا د سُبْحٰنَ الله يا اَلْحَمْدُ لِلّٰه يا اللهُ اَكبر يا لَااِلٰهَ اِلَّا الله وئيلو سره په جَنَّت کښې د ونې نالولو سعادت نصيب شي-

سُبْحٰنَ الله پخپله د وئيلو يا په بل چا د وئيلو نيت

ياد ساتئ چې د حيرانتيا په توګه يا د داد او تحسين په طور اللهُ اَكبر يا سُبْحٰنَ الله ! وغيره وئيلو سره هم ثواب مېلاؤېږي خو که د ذِكرُ الله نيت پکښې هم شامل کړے شي نو زيات ثواب به مېلاؤ شي- بعضې وخت

مُبلغين او نعت خوانان حاضرينو ته وائي: " ووايئ! سُبْحٰنَ الله " دا ډۀ نورو وئيل هم د ثواب کار دے او چې څوک يې ووائي نو هغه هم د ثواب حقدار او خو که ډۀ بل چا وئيلو والا د ثواب ډۀ نيت سره داسې ووائي نو زياته بهتره ده چې " د ذِكرُ الله ډۀ نيت سره ووايئ: سُبْحٰنَ الله " ډۀ دې چې څوک هم د ذِكرُ الله ډۀ نيت سره سُبْحٰنَ الله ووائي د هغې ثواب به زيات شي-

حضرت علامه عيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (وفات: 855 هجري) فرمائي: ډۀ يو څيز د حيرانتيا ډۀ وخت اَللّٰهُ اَكْبَر او سُبْحٰنَ الله وئيل مستحَب دي- (عمدۃ القاری، ج:15، ص:335)

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډۀ " مِرآت " کښې فرمائي: څوک چې سُبْحٰنَ الله يا اَلْحَمْدُ لِلّٰه يا اللّٰهُ اَكْبَر يا لَا اِلٰهَ اِلَّا الله څنګه هم ووائي نو د نفلي صدقې ثواب به مومي که هغه د ذِكرُ الله ډۀ نيت سره ووائي يا که د څۀ حاجت د پاره د وظيفې دا الفاظ ولولي يا د عجيبه خبرې اوريدو سره سُبْحٰنَ الله وغيره ووائي يا خوشحالي ومومي او اَلْحَمْدُ لِلّٰه ووائي- بهر حال ثواب به مېلاؤېږي ځکه چې د الله نوم اخستل بهر حال (يعنې ډۀ هر حال کښې) عبادت دے- (مرآت، ج:3، ص:98) غرض د هر قسمه ذِكر او اَذكار او اورادو، وظيفو، د قرآنِ پاک تِلاوت کولو او د درود او سلام لوستلو او مَحضَه (يعنې خالص د عبادت ډۀ کارونو) باندې که د بېل ثواب نيت نۀ وي نو بيا هم ثواب مېلاؤېږي او که چرې د ثواب نيت اوکړئ نو ثواب به زياتېږي-

ذِکر و دُرُود ہر گھڑی وِردِ زَباں　　میری فُضُول گوئی کی عادت نکال دو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د 60 کاله عبادت نه بهتر

که چرې د لوستو پۀ ځائے خاموشه اوسيدل مو زړۀ غواړي نو پۀ هغې کښې هم د ثواب ګټلو صورتونه شته او هغه دا چې پۀ ګډو وډو خيالونو کښې د پرېوتو پۀ ځائے انسان د الله پاک پۀ ياد، يادِ مدينه او شاهِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې ډوب شي- يا پۀ عِلمِ دين کښې غور او فکر شروع کړي يا د مرګ چپو، د قبر د تنهايۍ، د هغې د وېرو او د حشر د خطرناک ماحول پۀ سوچ کښې ډوب شي نو داسې به هم وخت نۀ ضائع کېږي بلکې يوه يوه ساه به اِنْ شَآءَ اللّٰه الْکَرِيم! پۀ عبادت کښې شمار شي- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: (د اخرت د امورو پۀ باره کښې) د لږ ساعت د پاره غور او فکر کول د 60 کاله عبادت نه بهتر دے- (جامعِ صغير، 365، حديث: 5897)

اُن کی يادوں ميں کھو جايئے مصطفٰے مصطفٰے کيجئے

د بې بها لمحاتو قدر

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د ژوند ورځې د يو څو ګڼټو او ګڼټې د منټونو نه عبارت دي، د ژوند هره ساه يو بې بها هيرا ده، کاش! چې د يوې يوې ساه قدر نصيب شي چې چرته يوه ساه هم بے فائدې تېره نۀ شي او د قيامت پۀ ورځ د ژوند خزانه د نېکو نه د خالي موندو سره د پښېمانتيا اوښکې توئېول نۀ وي! ډېر زيات افسوس چې د يو يو سيکنډ د حساب عادت جوړ شي چې څنګه تېرېږي، څومره ښه به وي چې د ژوند هر هر

ساعت د فائدې پۀ کارونو کښې تېر شي- د قيامت پۀ ورځ چې بيا وخت د فضول خبرو، ګپونو کښې د تېرولو سره چې افسوس اونکړو!

د پښېمانتيا ډېره لويه وجه

صحابئ رسول حضرت سيِّدُنا عبد الله ابنِ مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: ”زۀ د خپل ژوند د تېرې شوې هٰغې ورځې پۀ مقابله کښې پۀ يو څيز نۀ شرمنده کېږم کومه ورځ چې زما د نېکو اعمالو د زياديدو نه خالي وي-“

وخت د تورې پۀ شان دے

حضرت امام شافِعِي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡہ فرمائي: وخت د تورې پۀ شان دے تاسو دا (د نېکو اعمالو پۀ ذريعه) پريکوئ ګڼې (فضولياتو کښې د مشغولېدو سره) به دا تاسو پريکړي-

(لواقع الانوار القدسية، ص: 83)

د ځنکدن پۀ سلګو کښې تِلاوت

حضرت جنيد بَغدادي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡہ د ځنکدن پۀ وخت کښې قرآنِ پاک لوستلو، د هغوئ نه پوښتنه اوکړے شوه: پۀ دې وخت کښې هم تِلاوت؟ ارشاد يې وفرمائيلو: زما عمل نامه راغونډولے کېږي نو زر زر پۀ دې کښې نېکۍ زياتووم- (صيد الخاطر، ص: 227) **د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئ باندې رَحمت وي او د هغوئ پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-**

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

کله چې فيضانِ سُنَّت کور ته داخل شو

اَللّٰہُ اَکْبَر! د دنيا نه د رخصتېدو پۀ وخت هم د قرآنِ کريم د تِلاوت جذبه! الله کريم دې مونږ ته هم د قرآنِ کريم د تِلاوت شوق را عطا کړي- اٰمِين د تِلاوت جذبې موندلو او د ګناهونو د عادتونو پرېښودو د پاره د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره هر وخت مضبوط تړون وساتئ او د مکتبة المدينه اسلامي کتابونه لولئ ستاسو د ترغيب د پاره عرض دے چې د ساهيوال (پنجاب) يو اسلامي ورور د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې د دنيا پۀ رنګينو او د ګناهونو پۀ وادیانو کښې ورک وو، د نمونځونو قضا کولو، دروغو، غيبت، چغلۍ او نورو لويو ګناهونو لړۍ روانه وه، د هغه پۀ ژوند کښې اصلاح څۀ داسې راغله چې يوه ورځ د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره تعلق لرونکي د هغه د ترور ځوي د هغوئي کور ته راغلو، د هغه ساده خو د ديني جامو ليدو سره ټول کور والا د هغه نه متاثره شو، هغه کور والۀ ته د دعوتِ اسلامي مدني سپرلي بيان کړل پۀ کومې چې د دعوتِ اسلامي محبّت د کور والۀ پۀ زړۀ کښې کښېناستو، نور دا چې هغه يو کتاب هم هغوئي ته پۀ ډالۍ کښې ورکړو د کوم نوم چې " فيضانِ سنّت " وو، چې کله هٰغه اسلامي ورور او د هغه د کور نورو ګسانو هٰغه کتاب ولوستو نو د هغوئي پۀ کور کښې مثبت بدلون راغلو او يو وخت راغلے چې دغه ټولې کورنۍ د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره تعلق جوړ شو، څۀ ورځې مخکښې چې کله هٰغه اسلامي ورور د دعوتِ اسلامي د سنتو زده کولو او ښودلو مدني قافله کښې سفر اوکړو نو اَلْحَمْدُلِلّٰه الکريم! د دې پۀ برکت هغه پۀ خپل مخ د سنت مطابق يو موټے ږيره او پۀ سر د عمامې شريفې تاج پۀ سر کړو، نور کرم دا وشو چې يواځې

هٰغه اسلامي ورور پخپله پۀ درسِ نظامي کښې داخله وانخسته بلکې د هغه سره سره د هغه دوۀ خوئبندو هم پۀ جامعة المدينه (کرلز) کښې پۀ درسِ نظامي کښې داخله واخسته۔

اے د خورِ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ډالۍ ورکول او قبلول سنّت دي، د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: تَهَادَوا تَحَابُّوا يعني "يو بل له تحفه[ډالۍ] ورکوئ مينه به زياتېږي۔" (مؤطا، ج:2، ص: 407، حديث: 1731) د دې حديث شريف نه معلومه شوه چې د ډالۍ ورکولو سره مينه زياتېږي او که چرې هٰغه ډالۍ د ديني کتاب وي نو د مينې سره سره عِلمِ دين هم زياتېدے شي۔ ځکه که کېدے شي نو د دعوتِ اسلامي د مکتبة المدينه نه د اسلامي کتابونو اخستو سره خپلو خپلوانو او ملګرو ته ډالۍ کړئ، خپلو وفات شوو ته د ثواب رسولو د پاره، د غم ښادۍ پۀ محفلونو او نورو دستورو کښې يې تقسيم کړئ، يواځې يې تقسيموئ مۀ بلکې پخپله هم د دغه کتابونو د لوستلو معمول جوړ کړئ اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د عِلمِ دين ډېره لويه خزانه به پۀ لاس در شي۔

عمل کا ہو جذبہ عطا یا الٰہی — گناہوں سے مجھ کو بچا یا الٰہی
سعادت ملے درسِ "فیضانِ سُنّت" — کی روزانہ دو مرتبہ یا الٰہی

(وسائلِ بخشش، ص: 102، 103)


صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

يا ربَّ المُصطَفٰے! مونږ ته د فضول خبرو نه د بچ کېدو توفيق راعطا کړې۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د راتلونکې هفتې رساله



فیضانِ مدینہ، محلّہ سوداگران، زیرہ سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net